مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال: هانس کريستين اندرسن
ژباړن: آصف بهاند
۲۰۱۸/۰۱/۱۳

# د صنوبر ونه

## (Grantræet)

### لومړۍ برخه

### H.C. Andersen



د ځنګله په منځ کې يوه ښايسته د صنوبر ونه ولاړه وه. دې ونې په ځنګله کې ښه ځای درلود، پوره لمر يې اخستلای شو، پوره هوا ور رسيده او په شا و خوا کې يې ښو غټو ونو د ملګرو په څير سرونه هسک کړي وو، خو دې ونې په شته امکاناتو بسنه نه کوله او غوښتل چې نوره وده هم وکړي او ستره شي؛ آن تر دې چې کله به د کلي کوچنيان ځنګله ته د ميوو ـ توټولو له پاره راتلل، هغو ته به يې هم پاملرنه نه کوله. کله به کوچنيان له ميوو ډکې ټوکرۍ سره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

راتلل او د ښکلې صنوبر د وړې ونې له اړخ سره به کیناستل او د دمې په ترخ کې به یې مځکنې توت په یوه نازکه لښته کې داسې سره پېیل، لکه کباب چې په سیخ کې تیریږي او بیا به یې یو، یو خوړل، تل به یې د کاج د ونې صفت کاوه او ویل به یې چې:
«څومره ښکلې وړه ونه ده.»،
خو ونې دې خبرو ته هیڅ پام هم نه کاوه، لکه اوریدلې یې چې نه وي. هیله یې دا وه چې ډیر ژر ستره شي.
د صنوبر دا وړوکې ونه کال په کال غټیده او سټه یې نور هم قوي کیده، خو ګوره چې د صنوبر یوه ونه څومره خوارۍ او زحمت او څو کلونو ته اړتیا لري چې دا ستره شي.
وړوکې صنوبر ونې په خپګان سره آه ایسته او له ځان سره یې ویل:
«کاشکې زه هم نن لکه دا نورې ونې یوه غټه او قوي ونه وای، خپلې څانګې به مې شا و خوا ځړولې او له خپلې پاسنۍ برخې نه مې دا نوره نړۍ لیدلای، مرغان به راتلل او زما په څانګو کې به یې ځالې جوړولې، او د باد له الوتو سره مې د نورو ونو په څیر کولای شوای سر وخوځوم.»
د صنوبر وړې ونې، د لمر له وړانګو، له الوتونکو او پر سر یې سهار او ماښام له روانو سرو وریځو څخه رضایت نه درلود او له هغو نه یې هیڅ خوند نه اخیسته.
کله چې ژمی شو، د واورو سپینې دانې پرې را خورې شوې، یو شیطان او شوخ سوی به په خینجتو هلته راته او د صنوبر د وړې ونې له پاسه به یې خیزونه وهل، د ونې له پاسه به کیناسته او دې کار به د صنوبر ونه عصباني کوله!



دوه ژمي واوښتل، دریم ژمی چې راغي، د صنوبر وړه ونه دومره ستره شوې وه چې شیطان سوی نه شوای کولای د هغې له پاسه خیزونه و وهي او مجبور و چې شا و خوا ورنه راتاو شي.
د صنوبر ونې داسې فکر کاوه چې وده کول، غټیدل او زړیدل په نړۍ کې تر ټولو ښکلي شیان دي.
په منې کې به هر کله لرګي ماتونکي راتلل، څو تر ټولو سترې ونې به یې ماتولې او غورځولې. په هغه کال هم راغلل، د صنوبر ونه چې ښه غټه شوې وه، د هغوی په لیدلو سره، له ډاره وریږدیده. هغې لیدل چې سترې ونې لکه بریښنا داسې مخکته لویږي. لرګو ماتونکو به د هغوی څانګې غوڅولې، په کراچیو کې به بارولې، اسانو به کشولې او له ځنګله څخه به یې ایستلې، خو د صنوبر ونه په دې نه پوهیده چې غوڅې کړای شوې ونې چیرې وړل کیږي؟ او څه پرې کوي؟
په پسرلي کې، کله چې توتکۍ او ډینګ (لک لک) راغلل، د صنوبر ونې له هغوی نه پوښته وکړه:
«آیا تاسو پوهیږئ چې زموږ دوستان یې چیرې یوړل؟ په لاره کې مو هغوی ونه لیدل؟»
توتکۍ په څه نه پوهیدلې، خو ډینګ (لک لک) په متفکرانه ډول سر وښوراوه او وې ویل:
«هو، لکه چې ما ولیدل. کله چې د مصر په لوري تلم، ډیرې نوې کشتیانې مې ولیدلې. د هغو پر سر لوی او پرتمین شاتیرونه بار وو، که تیروتی نه اوسم، دا به زموږ هماغه خپلې ونې وې، د سروې او صنوبر بوی یې کاوه، ډیرې ښکلې او پرتمینې ښکاریدې.
د صنوبر ونې یو آه ویست او وې ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«کاشکي ما هم کولای شول چي د سمندر پر سفر ولاړه شم! دا سمندر چي تاسويي يادوئ، دا څه ډول ځای دی؟ هغه څه ډول ښکاري؟»
ډينګ (لک لک) و ويل: «د دې شيانو په باب خبري کول ډېر وخت غواړي.» دا يي و ويل او ايسته والوت.
د لمر زرينو وړانګو وويل:
«د ځوانی په څواک دې پوه شه! باران به د ونې پاڼي ښکلولي، سهارنۍ پرخه به د هغې پر اوږو اوښکي تويولي»؛
خو د صنوبر ونه د هغوی په ژبه او خبره نه پوهيده.
د کريسمس وخت راورسيد، لرګي ماتونکي په صنوبر ونو پسي راغلل او هغوی يي يوه، يوه غوڅي کړلي. هغوی ځو ځوان صنوبر نيالګي هم غوڅ کړل، هغه نيالګي چي زموږ د کيسي له صنوبر نه هم واړه وو؛ بيا يي پرې شوې ونې پر خپلو ګاډيو باندې کېښودې او اسانو په کشولو سره هغه له ځنګله څخه وايستلې.
د صنوبر ونې له ځان څخه وپوښتل:
«هغه چيرې وړي؟ هغوی تر ما وړې وې، هغه يي غوڅي کړې او وې يي وړې، خو زه يي وې نه وړم؟ هغوی چيرې روان دي؟»
ځرو مرغيو په چقهاري سره وويل:
«موږ پوهيږو، موږ پوهيږو! کله چي دننه په ښار کي وو، د کورونو له کړکيو نه مو د ننه وکتل، موږ پوهيږو چي هغوی يي چيرې يوړې!
اوه! هغوی په داسي حالت کي دي چي فکر يي هم نه شي کولای، هغوی اوس په ډېر جلال او پرتم کي دي. موږ له کړکيو نه سرونه ور وړاندې کړل او ومو ليدل چي هغوی يي د يوه تاوده سالون په منځ کي درولي دي او په ډېرو ښکلو شيانو يي ګاڼلي دي. زريني منې، له ګبينه جوړ کيکونه، د لوبو رنګارنګ اسبابونه او سلګونو شمونه يي په کي راځړولي دي.»
د صنوبر ونه له احساساتو سره وريږديده او وې پوښتل: نو بيا؟ هو، بيا څه وشول؟
«بلي، بيا موږ هيڅ و نه ليدل، خو هغه ځای بې جوړې و!»
د صنوبر ونې په خوشالتيا سره وويل:
«ښايي زما راتلونکي به هم همداسي وي چي داسي يو پرتمين برخليک را په برخه شي! دا خو په سمندر کي تر سفر کولو هم ښه دی، څومره د داسي يو حالت ليواله يم! کاشکي همدا اوس کريسمس وای او زه په يوه تاوده او خپلي خوښي وړ سالون کي، په ښکلاوو او پرتم کي درول شوې وای! او بيا؟ خامخا به د داسي ونې له پاره نور ښه هم په انتظار کي وای، ډېر جالب څه، که نه څه اړتيا وه چي ونه دې هغسي تزئين او سينګار کړي؟ بايد له دې نه هم کوم مهم او لا پرتمين څه په مخ کي وي، خو څه شی؟ اوه! څومره زوريږم! څومره هيلمنه يم! زه خپله هم نه پوهيږم چي ولې؟ اې شينه ځنګله پوه شه!»
پاکي هوا او د لمر تودونکو وړانګو وويل:
«له موږ نه خوند واخله! په دې شنه ځنګله کي دې د ژوند او ځوانی په قدر پوه شه!»

د لومړۍ برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ